UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلاميه
http://unama.unmissions.org

**په افغان حراست کې د جګړې اړوند له توقيف شويو کسانو سره ناسم چلند، مخه نيونکو تدابيرو او سمون ته اړتيا لري**

**کابل: ۲۰ جنوری ۲۰۱۳-** هغه راپور چې نن خپور شو، د يوناما موندنې دا په ډاګه کوي چې د هغو مهمو هلو ځلو سره سره، چې د افغانستان د دولت او نړيوالو همکارانو له خوا د جګړې اړوندو توقيف شوو کسانو سره د ناسم چلند په برخه کې اخيستل شوې دي، اوس هم شکنجه شتون لري او د افغانستان په کچه د توقيف په مرکزونو کې د ستړې انديښنې په توګه پر ځای پاتې ده. د يوناما له خوا د توقيف د ځايونو د مشاهدې پروګرام د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا له خوا د ورکړل شوې صلاحيت سره سم تر سره کيږي، څو د افغانستان له دولت او ټولو افغانانو سره مرسته وکړي چې بشري حقونو او د قانون حاکميت ته درناوی د زندانونو د سکتور په شمول د افغان چارواکو سره په همکارۍ کې ښه والی ومومي.

د يوناما ۱۳۹ پاڼې راپور د *افغانستان په حراست کې د جګړې د اړوندو توقيف شوو کسانو سره سلوک: تير يو کال* د ۶۳۵ دجګړې اړوندو هغو توقيف شويو کسانو چې د افغانستان د ملي پوليسو، ملي امنيت، ملي اردو او محلي پوليسو له خوا نيول شوي وو د مرکو ، د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر څخه د ۲۰۱۲ کال تر اکتوبره پورې د هيواد په کچه د ۳۰ ولايتونو ۸۹ د توقيف دمرکزونو څخه د ليدنو، د اړوندو اړخونو او لورو سره د ګڼو تفصيلي مرکو، زياتو تحليلونو، تاييد اخيستنو د سندونو او نورو موادو د کره کولو پر بنسټ چمتو شوی دی. ملي امنيت او د کورنيو چارو وزارت توقيف ځايونو ته د ننوتلو امکانات برابرکړل او له يوناما سره يې د مشاهدې په پړاو کې د ليدنو زمينه مساعده کړه چې په دې ډول دغه معلومات په مناسبه توګه سره شريک کړای شي او له هغوي سر ه د انديښنو او د موضوع د تعقيب د تدابيرو په اړه بحث ترسره شي.

د نړيوالې منل شوې ميتودولوژۍ، معيارونو او ښو تجربو په کارولو سره يوناما ته دا معلومه شوه، چې د جګړې د اړوندو ۶۳۵ توقيف شوو کسانو له جملې څخه چې ورسره مرکې شوې دي د نيمايي څخه زيات (۳۲۶) کسان د ناوړه چلند او شکنجو سره په تيره بيا د پوليسو او ملي امنيت په ۳۴ مرکزونو کې د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر څخه د ۲۰۱۲ کال تر اکتوبره پورې موده کې مخامخ شوي دي. شکنجه لکه څرنګه چې تعريف شوې ده د افغانستان او د نړيوال قانون د حکمونو له مخې ممنوع ده، خو دې ځان ته د سپکاوي د تحقيقاتو د تخنيکونو شکل غوره کړی چې هغه کې افغان اړوندو مسوولينو توقيف شوي کسان د زيات درد او زجر سره مخ کړي څو چې د استنطاق پر مهال توقيف شوي کسان اعتراف ته اړ او معلومات تر لاسه کړي. د شکنجې او ناوړه چلند څوارلس ميتودونه د هغو ميتودونو او کړنو سره يوشان وپيژندل شول چې پخوا د يوناما له خوا مستند شوي وو.

په دې څيرنه کې وموندل شوه چې د افغانستان د ملي پوليسو د توقيف په مرکزونو کې د تيرې دورې په پرتله د شکنجې پيښې زياتې شوې دي (چې په دې دوره کې د ۲۸۶ د جګړې د اړوندو توقيف شوو څخه ۱۲۵ تنه يا ۴۳ سلنه د شکنجو او ناوړه سلوک سره مخ شوي وو، دا د هغې ۳۵ سلنې په پرتله چې د تيرو ۱۲ مياشتو په دوره کې وه)، هغه توقيف شوي کسان چې د ملي امنيت په توقيف ځايونو کې ور سره مرکې شوې دي د هغوي دتيرې دورې په پرتله لږ د ناوړه چلند او شکنجې سره مخ شوي دي (د ۵۱۴ څخه ۱۷۸ توقيف شوي کسان يا هم ۳۴ سلنه د شکنجې سره مخ شوي دي چې ۱۲ سلنه د تير کال څخه کمه ده، کله چې په ملي امنيت کې د شکنجې او ناوړه چلند راپور ۴۶ سلنه و). په زيات شمير کې توقيف شوي کسان د ملي پوليسو او ملي امنيت د دواړو د توقيف په ځايونو کې د نورو افغان چارواکو له خوا د ناوړه چلند سره مخ شوي دي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي ښاغلي یان کوبیش وویل: "د یوناما د راپور موندنې د جدي اندیښنې لامل دي. د افغاستان دولت په وار وار د بشري حقونو د نړیوال قانون او بشر دوستانه تعهداتو او د افغانستان قوانینو د اړوندو احکامو له مخې د ژمنتیا پخلی کړی دی او دا یې ویلي دي چې د جګړې سره د اړوندو توقیف شوو کسانو سره ناوړه سلوک د افغانستان د دولت او د هغه د اړوندو ادارو پالیسي نه ده، بلکې دغه ډول کړنې د افرادو کار دی. د دولت پاملرنه او هلې ځلې په دې لار کې چې د دغه ډول تیري کوونکو اعمالو د مخنیوي په لار کې ترسره کیږي د ملاحظې وړ او هڅونکي دي، هغو مثبتې پایلې راوړي دي خو سیستم دومره ځواکمن نه دی چې د توقیف شوو کسانو سره ناوړه چلند له منځه یوسی. دا جوته ده چې ډیر څه کول په کار دي څو د شکنجې مخه ونیول شي او هغه پای ته ورسوله شي."

افغان دولت یو لړ تدابیر نیولي دي، چې د توقیف چارې سمې کړي او د هغو اندیښنو په اړه یې غبرګون ښودلی کومې چې د یوناما په راپور کې یادې شوي، او تفصیل یې د یوناما په راپور کې ضمیمه دی. لکه څرنګه چې د ملي امنیت او د کورنیو چارو د وزارت له خوا ویل شوي دي، هغوي پراخ روزنیز پروګرامونه ترسره کړي، چې د توقیف شویو کسانو سره د ناوړه چلند مخنیوی وکړي، د پالیسۍ لارښودونه یې خپاره، پلټنې یې زیاتې کړي او نوی پرسونل یې بیا پر کار ګمارلی دی. په ۲۰۱۲ کې ملي امنیت د بشري حقونو د مرستیالۍ ریاست جوړ کړی چې د ملي امنیت رئیس ته راپور ورکوي او د کورنیو چارو وزارت جوته کړې ده، چې نوموړی وزارت د افغان ملي پولیسو په چوکاټ کې د بشري حقونو دفترونه غښتلي کړي دي. دواړو ادارو دا څرګنده کړې ده، چې هغوي د ناوړو چلندونو د تورونو تحقیقات ترسره کړي، خو دا څرګنده نه ده، چې دغه داخلي تحقیقات د عدلي تعقیب او د هغو افغان چارواکو د ګوښه کولو لامل شوي، څوک چې د توقیف شویو کسانو په شکنجه کولو کې ښکیل وو، او یا دا چې د شکنجې په مخنیوي کې پاتې راغلي دي.

د یوناما د بشري حقونو د څانګې مشرې جورجیت ګنیان وویل: "یوناما دا موندلې ده، چې د شکنجې عاملین په څو تحقیقاتو کې په پرلپسې ډول له عدم احتساب سره مخ دي او هغه نور چې د دې مسوولیت لري تر هیڅ عدلي تعقیب لاندې نه دي راغلي. دغه موندنې دا څرګندوي، چې شکنجه نه شي کیدلای یوازې د روزنې، تحقیقاتو او لارښودونو له لارې له منځه یوړله شي، بلکې لازمو احتسابي اقداماتو ته اړتیا ده څو چې هغه ودروله شي او د کارونې څخه یې مخنیوی وشي. پرته له محدودیتونو او د شکنجې د کارولو نه هڅونې د غښتلو، خپلواکو تحقیقاتي بهیرونو په ګډون، جنایي عدلي تعقیبونه او د محکمو پرلپسې د هغو اعترافونو ردول او نه قبلول، چې د شکنجې له لارې ترسره شوي دي، افغان چارواکي د دې لیوال نه دي چې شکنجه پای ته ورسوي."

د مشاهداتو په دغه موده کې نړیوالو سوله ساتو ځواکونو (ایساف) د توقیف د مرکز د نظارت یو پروګرام پلی کړ، څو له افغان چارواکو سره د استنطاق او د توقیف شویو کسانو سره د چلند په اړه مخکې له دې چې ګنو دغه شان مرکزونو ته د نړیوالو څخه د توقیف شویو کسانو د لیږد مسوولیت واخلي، مرسته ترسره کړي. د ۲۰۱۲ په اکتوبر کې د شکنجو د هغو نوو راپورونو د تعقیب په موخه چې د ملي امنیت او افغان ملي پولیسو له یو شمیر مرکزونو څخه د هغو موقعیتونو په ګډون، چیرې چې ایساف توقیف شوي کسان لیږدولي، ایساف د دوهم ځل لپاره دغه لیږد وځنډولو. د دې په تعقیب ایساف یو شمیر افغاني مرکزونو ته د توقیف شویو کسانو لیږد ودراوه او یوه پروسه یې پیل کړه، چې لیږد محدود کړي او په دې توګه د افغاني مرکزونو شمیر راکم او نظارت او احتساب زیات کړي.

د یوناما موندنې په قضایي، قانوني تعقیب او د قانون د انفاذ په سکتورونو کې د اصلاحاتو په اوږد مهالي اړتیا باندې بیا ټینګار او حکومت او نړیوالو شریکانو ته ۶۴ سپارښتنې وړاندې کوي. سپارښتنې د یوناما د ۲۰۱۱ کال د راپور د هغو وړاندیزونو ملاتړ کوي کوم چې لا تر اوسه په بشپړ ډول نه دي تطبیق شوي. د نورو اقداماتو تر څنګ، یوناما د شکنجې په اړه د یوه خپلواک ملي مخه نیونکي میکانیزم د رامنځ ته کولو سپارښتنه کوي، کوم چې د شکنجې په وړاندې د کنوانسیون په اختیاري پروتوکول کې څرګند کړای شوي. دغه ډول میکانیزم به د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون په دننه کې وي د دغه صلاحیت او قوي ظرفیت او تخصص سره چې د توقیف ټول مرکزونه تفتیش، تعقیبي تحقیقات ترسره، او تفصیلي تخنیکي وړاندیزونه د تورنو د عدلي تعقیب او اصلاحي تدابیرو لپاره ترسره کړي. د دغه ډول میکانیزم جوړول به له افغان دولت او نړیوالې ټولنې څخه د پرلپسې مشخص ملاتړ غوښتنه وکړي. یوناما خپلو هڅو ته دوام ورکوي ترڅو له توقیف شویو کسانو سره چلند وڅاري او د افغان چارواکو او نړیوالو همکارانو سره له نږدې څخه کار ترسره کړي، ترڅو مثبت بدلون رامنځ ته شي.

د لا ډیرو معلوماتو لپاره رسني کولاي شی چی په دی شمیره اړیکه ټینګه کړي: 0786 600 105
بشپړ راپور او د افغان حکومت غبرګون د یوناما په دغه ویب پاڼه کې د لاس رسي وړ دي:
**http://unama.unmissions.org**

------------------------------------------------------------------------------------------------------------------


**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**